بسم الله الرحمن الرحیم

# د حزب التحریر، اسلام ته يې د دعوت، خلافت او منهج په اړه يې پوه شئ!

د ۲۰۲۳م کال د مې په ۱۰مه بېلابېلو رسنيو راپورونه ورکړي چې د هند په دوو ښارونو؛ بهوپال او حيدراباد کې شاوخوا ۱٦ مسلمانان نيول شوي. په دغو راپورونو کې پر حزب التحرير تور پورې شوی او يو «ترهګر» سازمان ياد شوی چې د هند پر وړاندې د جګړې نيت لري. په راپورونو کې د ځينو «بهرنيو» استخباراتي ادارو په ګډون، بېلابېلې استخباراتي ادارې د «نامعلومو» سرچينو په توګه ماخذ نيول شوي. له نيول شوو کسانو سره د حزب التحرير له لوري چاپ شوي کتابونه د تورونو اساس بلل شوي. له هغه وخت راهيسې په انلاين ډول بېلابېل تورونه خپرېږي؛ ځينې يې دغه ۱٦ نيول شوي مسلمانان په تاميل ناډو ايالت کې د حزب التحرير د غړو له هغې قضيې سره تړي چې اوس روانه ده. ان ځينو مشهورو هندي رسنيو؛ لکه India Today او Economic Times هم هغه اصول تر پښو لاندې کړل چې پر خپلو وېبپاڼو يې دغه ډول راپورونه خپاره کړي. دوی پرته له دې چې د حزب التحرير په اړه لومړني حقيقتونه وګوري، ورکړل شوی «روايت» يې خپور کړ. دلته غواړو د خلافت او حزب التحرير لنډه پېژندنه وړاندې کړو. حزب التحرير يو سياسي حزب دی چې رسول الله صلی عليه وسلم يې د خپل کار الګو ګرځولی او د هغه پر منهج په اسلامي نړۍ کې د خلافت د بيا تاسيسولو لپاره کار کوي.

**خلافت:** خلافت د حکومتولۍ نظام يا سيستم کوم ناپېژانده سيستم نه دی چې نړۍ يا د هند خلک ورسره اشنا نه وي. د حکومتولۍ دغه سيستم څو پېړۍ پر هند واکمن و او د دغه سيستم تر واکمنۍ لاندې هند خپله زرينه دوره پيل کړه. دغه اسلامي نظام د هند امنيت، خونديتوب او سوکالي ډاډمنه کړه؛ دغه وخت هند د نړۍ د خوراکي توکو ټوکرۍ بلل کېده. هند د نړۍ د ټول توليد ۲۵ سلنه برخه توليدوله. خلافت په اسلام کې د حکومتولۍ نظام دی چې اساس يې پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې کېښود. رسول الله صلی عليه وسلم د دغه دولت مشري کړې او تر ده وروسته يې دوام موندلی. په دغه سيستم کې خليفه د ټولو هغو سيمو د مشرۍ لپاره ټاکل شوی کس دی، چې د خلافت قلمرو ګڼل کېږي؛ په دغه قلمرو کې هم مسلمانان شاملېږي او هم ذمي. خليفه دا واک لري چې (کله په واک کې وي) خپل وزيران، قاضيان او همدارنګه د بېلابېلو اداري څانګو يا رياستونو مشران وټاکي او دوی په يادو چارو کې د خليفه استازيتوب کوي. خليفه د سلا مشورې لپاره يو مجلس ټاکلی شي چې د شورا (دامت مجلس) ورته وايي. په اسلامي نظام کې پر مسلمانانو د شريعت د پلي کولو عمومي مسوليت په ټوليز ډول د مسلمانانو له لوري د مسلمانانو خليفه ته د بيعت له لارې ورکول کيږي. خليفه مکلف دی چې شريعت (له قانون او حديث څخه اخيستل شوی قانون) پلی

کړي. شرعي احکام شخصي او عامه چارې تنظیموي. عامه چارې د حکومتولۍ، اقتصاد، ټولنې او نړیوالو اړیکو مسلې تنظیموي. د شخصي چارو په تړاو؛ په دین او عبادت کې هیڅ جبر نشته او هغه شخصي چارې چې په حکومتولۍ، اقتصاد او ټولنې پورې تړلې وي، له شرعي احکامو سره سمې تنظیمېږي.

**د خلافت تاریخ:** دا یو تاریخي ثابت شوی حقیقت دی چې د اسلامي نړۍ لپاره د حکومتولۍ د نظام په توګه خلافت د پیغمبر صلی علیه وسلم له وخت وروسته له مدینې څخه پیل او تر ۱۹۲۴ کال پورې یې دوام وکړ او په همدغه کال په ترکیه کې د مصطفی کمال لخوا رسماً له منځه یووړل شو. که په لنډه توګه ووایو؛ له لومړیو پنځو خلیفه ګانو وروسته چې د رسول الله صلی علیه وسلم اصحاب وو، خلافت په نننۍ سوریه کې د امویانو، له هغه وروسته په نني عراق او ایران کې د عباسیانو او ورپسې په نننۍ ترکیه کې د عثمانیانو لاس ته ولوید. تر واحد خلیفه لاندې خلافت ته دوام ورکول د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې په څرګند ډول ثابت دي او د دې کار نه ترسره کول د ټولو مسلمانانو د ګنهکاریدلو لامل کیږي. په تاریخ کې څو ځله د لنډ وخت لپاره د واحد خلیفه د شتون په اړه بحثونه راپورته شوي او د راتلونکو نسلونو له لوري حل شوي دي. کله چې د ۱۹مې پیړۍ د صنعتي انقلاب په پایله کې اروپایي دولتونو استعماري پرمختګ پیل کړ؛ په افریقا او اسیا کې د خلافت د قلمرو اړوندې ځینې سیمې د دغو اشغالګرو دولتونو له لوري اشغال شوې، خو په ټوله کې خلافت -چې هغه وخت یې مرکز په ترکیه کې و- مقاومت کاوه. په ۱۹۱۴ کال کې د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال خلافت له جرمني سره یو ځای شو چې د برتانیې او فرانسې پر وړاندې جګړه وکړي. په جګړه کې تر ماتې وروسته په خلافت پورې تړلې سیمې په بېلابېلو اداري واحدونو وویشل شوې. دغه اداري واحدونه وروسته پر هغو ناکامو دولتونو بدل شول، چې نن ورځ په شمالي افریقا، منځني ختیځ او اسیا کې د بېلابیلو لویو اسلامي هیوادونو په نوم پیژندل کیږي. که هند ته ځانګړې اشاره وکړو؛ له ۱۹۱۸ (له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته) تر ۱۹۲۴ پورې د خلافت د پاینښت په اړه ډاډ کم و؛ د هند په ګډون د ټولې نړۍ د مسلمانانو لویه اندېښنه دا وه چې خلافت څنګه وپایي. دغه وخت په هند کې د خلافت غوښتنې مشهور غورځنګ پیل شو؛ د دغه غورځنګ په پیلوونکو کې د علي وروڼو (مولانا شوکت علي او محمد علي جوهر) پشان د مسلمانانو مشران وو چې ان نا مسلمانانو یې د خلافت غوښتنې د غږ ملاتړ کاوه. دا هغه وخت و چې مهاتما ګاندي د ۱۹۲۱ کال په جون کې په «ځوان هند» اونیزه کې لیکلي چې ان که په هند کې کوم مسلمان نه وي هم، باید د ټولو احتمالي ګوابښونو پر وړاندې د خلافت دفاع وشي. د استعمار د بې عدالتیو په له منځه وړلو کې د خلافت د رول په اړه د هغه نظر خورا څرګند و. په تېرو ۱۴۰۰ کلونو کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په ډېرو ژبو د خلافت او د هغه د شرعي احکامو په اړه پرېمانه کتابونه لیکل شوي چې په کتاب پلورنځیو او انټرنېټ کې د لاسرسي وړ دي. پر دې سربېره؛ لکه څنګه چې د الله سبحانه و تعالی قانون دی چې د حق او باطل ترمنځ مبارزه دوام لري؛ باطل لوری له پېړیو راهیسې خپلو ماشومانو ته درواغ تدریسوي او د انسانانو د ژوند په ښه کولو کې د اسلام د

حکومتولۍ ستر رول له پامه غورځوي. له بلې خوا با انصافه خلک هم شته چې دا یې درک کړې چې ټول بشر د اسلام او مسلمانانو پوروړی دی؛ ځکه چې د بشر په ژوند کې یې مثبت بدلون راوړی.

**حزب التحریر:** حزب التحریر هغه سیاسي حزب دی چې په ۱۹۵۳ کال کې د جلیل القدر عالم، سیاسي مفکر او قاضي شیخ تقي الدین نبهاني له خوا جوړ شو. دغه حزب د پیغمبر صلی علیه وسلم د سیرت پر اساس په اسلامي هیوادونو کې د اسلام د حکومتولۍ د نظام (خلافت) د بیا تاسیس لپاره د عامه افکارو د رامنځته کولو لپاره کار کوي. په دغو هڅو او دعوت کې د معاصرو ستونزو د حل لپاره د اسلامي حل لارو وړاندې کول، سیاسي فعالیت او په پای کې په اسلامي هیوادونو کې د سیاسي بدلون د رامنځته کولو لپاره له وسلې پورته کولو پرته کار کول شامل دي. په هغو هېوادونو کې چې د مسلمانانو شمېر کم دی او لږکي ګڼل کېږي؛ حزب د دغو مسلمانانو ټولنه هڅوي چې له اسلام څخه دفاع او د خپل اسلامي هویت ساتنه وکړي. په فعالیت کې یې له شرعي اړخه د معاصرو اقتصادي، ټولنیزو او د حکومتولۍ د ستونزو لپاره د اسلامي حل لارو څېړل، د هغو واکمنانو د بې عدالتیو پر وړاندې د ټولنې د ټولو خلکو ویښول شامل دي، چې ډیری یې د استعماري دولتونو له ملاتړ څخه برخمن دي او نه پرېږدي چې په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو د سیاسي احیا لپاره کار وشي. حزب په نړیواله کچه د خلکو راپورته کولو لپاره په خپله طریقه کې د خپل شرعي مکلفیت پر اساس له فکري وسیلو څخه کار اخلي. د سیاسي بدلون د رامنځته کولو لپاره د افرادو یا ډلو لخوا هر ډول تاوتریخوالی د خپل غوره کړي منهج خلاف بولي. حزب د شرعي اصولو پر بنسټ خپل اساسي قانون مسوده خپره کړې او راتلونکي خلافت ته یې د سپارښتنې په توګه تیار او د لاسرسي وړ کړی. که هېوادونه د حزب پر وېبپاڼو او خپروونکو بندیزونه ونه لګوي، افکار او نظرونه یې عمومي او ټولو ته ښکاره دي او د هغه څه تر شا بل مخالف نظر نه لري چې عمومي یې خپروي. حزب د خپلو غړو لپاره شرط دا ایښی چې له حزب سره به کار کوي. حزب التحریر نن ورځ د ځینو نا اسلامي هېوادونو په ګډون تر ۴۰ زیاتو هېوادونو کې فعالیت کوي او له تاسیس راهیسې یې له خپل منهج څخه  هېڅ ډول انحراف نه دی کړی.

**اې خلکو!** حزب التحریر هېڅکله خپلو خلکو ته درواغ نه وایي او موخه یې داده چې بشر د پانګوالۍ له غلامۍ او د خپلو اخلاقو له زوال (انحطاط) څخه د هغه اسلامي عدالت تر چتر لاندې وژغوري، چې هېڅکله پر خلکو ظلم نه کوي. دا کار د هغو پیغمبرانو او رسولانو په پیروۍ کوي چې مشري یې د کائناتو د سرور محمد صلی الله علیه وسلم پر غاړه ده او د خپل کار په بدل کې له خلکو د څه تمه نه لري. حزب التحریر د ظالمانو له بې عدالتۍ څخه نه وېرېږي او نه هم د ملامتونکو د ملامتۍ پروا ساتي. حزب التحریر پوهېږي چې غرب او د دوی غلامان هڅه کوي چې د هغه متمدن بدیل د لټون لپاره د خلکو مخه ونیسي چې نړۍ د حرص، ګډوډۍ او سیکولر نژاد پرستۍ له منګولو څخه ژغوري. نو دغه شیطاني قوت غواړي چې د اسلام او حزب التحریر – چې د

اسلام حامل دی- حقیقت د خلکو له سترگو پټ کړي. دوی د اسلام او حزب د نوم بدولو کوښښ کوي چې د نړۍ مظلوم خلک له هغه خیر څخه بې برخي کړي چې د حزب التحریر په لاسونو کې دی. له شک پرته هغه څه چې حزب التحریر یې لري، د بشر لپاره لوی خیر او د اوسني نړیوال نظم لپاره هغه متمدن بدیل دی، چې خلک د انسانانو په لاس جوړو شوو نظامونو په پایله کې رامنځته شوو مصیبتونو څخه ژغوري.

**[هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ]**

***ژباړه:*** *«هغه، هغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت (قران) او حق دین سره لېږلی دی، ترڅو هغه پر ټولو دینونو برلاسی کړي، که څه هم پر مشرکانو دا کار سخت تمامیږي.» [توبه:۳۳]*

**حزب التحریر – هند**

۱۴۴۴هـ.ق، د ذولحجې ۵مه

۲۰۲۳م کال، جمعه، د جون ۲۳مه